# راویښ شه افغانه

د ا فغان د مور په شونډ و مسکا نشو را پیدا
د شهید ځوی په ویر کی شپه یي نشو سبا
چا د هغي په غمو کي نکړل هیڅ غمشریکي
نه دهغي اوښکي چا پاک کړ نه یی ودرول ژړا
د هغي د ځوي قا تل ښکاره ا و آزاد ګرځی
دچا وس پري نه رسیږی زورواکان یی دی ترشا
حق باطل ، باطل حق کیږی دقاضیانو په حکمونو
په دولت کي راټول شوی رشوتخور او ناروا
هر زورواک اوقومندان پرونی ټول اشرار
څوک وزیر ، څوک قا ضی څوک وکیل دشورا
دځنګل قا نون جاری دی عدالت او انصاف نشته
خلک له کورخپل شړل کیږی رهبر نه لری پروا
د پردو په مټ پرخلکو حکومت کوی زورواکي
کورنی یی خوشحال ګرځي په دوبي او امریکا
سپین جا مي یی په تن سرخریلی ببر ږیره
پاکستا ن کی روزل شوی دا قا تل او بی حیا
افغان وروره ورته ګوره دا دروغجن مسلمان ته
د قرا ن نه بی خبر دا په نوم جلاد ملا
زررا ویښ شه افغا نه توره واخله د خوشحال
د پلرو غیرت خپل که پردوی جوړ که کربلا
دشهید ورور په مزارکی د ګلانو ګیډی کیږده
نصیحت واوره د(مل) پورته لاس که په دوعا
****

**پوهندوی دوکتور سیدحسام (مل)**
جرمنی 09-07-2016